# د الله څخه وېره کوه هر چېرې چې يې، او د بد عمل پسې ښه عمل کوه چې له منځه يې وړي، او له خلکو سره په ښه اخلاقو چلند کوه

له ابو ذر، جُندب بن جُنادة، او ابو عبدالرحمن، معاذ بن جبل رضی الله عنهما نه روايت دی، چې د الله رسول صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «د الله څخه وېره کوه هر چېرې چې يې، او د بد عمل پسې ښه عمل کوه چې له منځه يې وړي، او له خلکو سره په ښه اخلاقو چلند کوه».
[ترمذي ويلي: حسن حديث دی] [الترمذي روايت کړی دی]

نبي صلی الله عليه وسلم په درې شيانو امر کوي: لومړی: د الله تعالی څخه وېره، يعنې د واجب کارونو ترسره کول او له حرامو ځان ساتل، په هر ځای، هر وخت او هر حال کې که پټ وي که ښکاره، که روغ وي يا په ازمېښت کې، او داسې نور. دويم: که کومه ګناه درڅخه وشوه، نو وروسته پسې نيکي وکړه — لکه لمونځ، صدقه، نيکي، خپلوي پالنه، توبه او داسې نور — نو دا ګناه له منځه وړي. درېيم: له خلکو سره په ښه اخلاقو چلند کوه، لکه پر وړاندې يې موسکا کول، مهرباني او نرمي ښودل، نېکي کول او د زيان رسولو مخنيوی.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4302

النجـاة الخـيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee